Public Disclosure Authorized

79724

# د افغانستان د سرچینو دهلېز د مهارتونو د ستراتیژۍ پراختیا

## ۲۰۱۲/۲۵/۱۱

Public Disclosure Authorized

دا سند د Executive Summary - Afghanistan Resource Corridor Skills Strategy Development Final Report ده چې لیوالو کسانو ته د یو خدمت په توګه وړاندې کیږي. د اختلاف په صورت کې د دې سند انګلیسي متن ته غوره توب ورکول کیږي.

.

## سریزه

## اجرائیوي لنډیز:

استخراجي صنعت د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره یو مهم عامل ګڼل کیږي. د نړېوال بانک د سرچینو دهلیز د ودې د ستراتژۍ د برخې به حیث، په افغانستان کې د کان کیندنې، تیلو او د ګاز سکتورونو کې د اړونده مهارتونو د پیاوړتیا لپاره یوې واضحه ستراتژۍ ته اړتیا لیدل کیږي.

د کانونو ویستلو د مهارتونو په هکله د معلوماتو اوسني کموالي ته په پام سره، دغه څېړنه د اوسني بازار د عرضې، تقاضې او نیمګړتیاوو په هکله معلومات بیانوي. دغه معلومات چې دښوونیز ادارو د مدیرانو ، زده کوونکو ، کارفرمایانو او مرسته کونکو موسسو سره د کیفي مرکو د لارې لاسته راغلي او بیا د مهارتونو د ستراتژۍ د انکشاف( SSD) جوړونې په مقصد تجزیه و تحلیل شوي څو د معدن د مهارتونو په سکتور کې د تقاضا او عرضې انډول را منځته شي. لس دولتي ښوونیز ادارو او منتخبو زده کوونکو سره مو مرکې ترسره کړي تر څو په تفصیل سره د هغوي په اړتیاوو ځان خبر کړو.
همدارنګه هغه افغان شرکتونه چې د نړېوال بانک لپاره د خصوصي سکتور د پراختیایي ارزونې په وخت ارزول شوي و، هم مونږ ته د خپل استخدام او تریننګ د څرنګوالي په اړه معلومات راکړه.په خلص ډول ټول هغه اشخاص چې مرکې ورسره شوې وې په افغانستان کې د کانونو استخراج د صنعت لپاره د بشري ځواک په پرمختیا کې ډیره لیوالتیا وښودله.

د کانونو د استخراج په لس لوی پروژو کې چې اوس مهال د معدنو وزارت د کار لاندې دي، د ۱۶۰۰۰۰ زرو څخه زیات خلکو ته به په مستقیم ډول کاري

دا سند د Executive Summary - Afghanistan Resource Corridor Skills Strategy Development Final Report ده چې لیوالو کسانو ته د یو خدمت په توګه وړاندی کیږي. د اختلاف په صورت کې د دې سند انګلیسي متن ته غوره توب ورکول کیږي.

.

فرصتونه برابر کړي. د کانونو راویستلو صنعت به په اداري او استخراجي فعالیتونو کې پراخه مهارتونو ته اړتیا ولري. که غواړو چی افغانان د دغه کاري فرصتونو څخه ګټه پورته کړي، نو باید په افغانستان کې د شته مسلکي او تخصصي زده کړو کیفیت او کمیت د ښه والي لپاره اقدامات ترسره شي او هغه سیمو ته پام واړول شي چی دغه استخراجي پروژې به پکې عملي کیږي.

اټکل کیږي چې ۷۰٪ غیر مسلکي او نیمه مسلکي مامورین به په تخمیني توګه په کار وګمارل شی او یو څه ډیره اندازه ددغو وظیفو نه به داسې وي چې کاریګران به د ترییننګ اخستلو نه وروسته په بل صنعتي سکتور کې د کار کول وړتیا ولري. پیچلې تخنیکي دندې لکه د جیولوجي متخصصین، دمنابعو منجمنټ مدیریت او نفتي انجینری مهارتونه به یواځې د ۱۰٪ نه تر ۱۵٪ پورې پکار وې. د ښه عرضې لپاره باید د مهارتونوښه کولو باندې کار وشي مګر د لومړیتوب حق باید هغه مهارتونو ته ورکړل شي چې په اسانه توګه او کمه بیه تر لاسه کیږي او په بشري ځواک ډیره اغیزه ولري. د ګمارنې او عملي ترییننګ لپاره د اسانتیاوو رامنځته کولو په مقصد اکثره وړاندیز شوې فعالیتونه به د ټولو سکتورنو مهارتونو لپاره ګټور تمام شي، په خاصه توګه د کانونو د استخراج د عرضې او تقاضې په مهارتونو باندې به یې ډیره ګټوره اغیزه وې.

سره له دې چې ډیرې لوی تمویل کونکي موسسو د خپل تعلیمي یا کاري ځواک د نوښتونو په وسیله د مهارتونو د انکشاف لپاره پروګرامونه جوړ کړي دي خو ولې اوسنې هیڅ یو پروګرام هم د استخراجي صنعتونو اړونده مهارتونو باندې ځانګړې تمرکز نلري. سره لدې، ددوې پرګرامونه د بین السکتوري مهارتونو په وړاندې خنډونه چی د استخراجي پروژو د جوړونې په پړاو کې اړین بلل کیږي، لیرې کړي. د همغږۍ د مشکلاتو د حل لپاره په پروژه کې یو داسې تکړه ټیم ته اړتیا شته چې د SSD پروګرام مسؤلیت په غاړه ولرې او د ډونرانو/شریکانو، د کانونو ویستلو صنعتونو او د کومک حاصلوونکو(پوهنتونونو او TVETs) تر منځ ارتباطات جوړ کړي.

دا سند د Executive Summary - Afghanistan Resource Corridor Skills Strategy Development Final Report ده چی لیوالو کسانو ته د یو خدمت په توګه وړاندی کیږي. د اختلاف په صورت کې د دې سند انګلیسې متن ته غوره توب ورکول کیږي.

.

دمهارتون د ستراتژی پراختیا SSD پروګرام به د کاري ساحې په ټاکلو او عملي ټریننګونو په برخه کې ډیره مرسته کوي ځکه د دلالانو یا منځګړو په وینا نوموړې دوه ساحو کې ستونځې شتون لري. او دا باید هم په نظر کې ونیول شي چې د خصوصی شرکتونو ګډون په دغه پروګرام کې د کامیابۍ مهم فکتور ګڼل کیږي، ځکه ددوي ګډون د کاري ساحې د تعین ستونزې او په عملي ټرینګونونو کې د زده کوونکو ستونزې حل کوي. د ښوونکو د ظرفیت لوړونه او دعصري لابراتواري موادو په تدارکاتو کې مرسته به زده کوونکو سره د کان د استخراجي مهارتونو د زده کړې کیفیت په لوړولو کې مهم رول لري.

لکه څرنګه چې د امو سیند پروژه پیل شوې ده او زر ترزره به په تولید پیل وکړي، نو باید چې ژر تر ژره اقدامات ترسره شي تر څو افغانان د دغه کاري فرصتونو څخه ګټه واخیستلای شي. ترڅو دغه ضرورت رفع شي. د پروګرام ډیزاین په دوه مرحلو باندې ویشل شوی دی: یو ابتدایي پروګرام چې په لنډمهاله اقداماتو تمرکز لري، به لومړی تطبیق شي او د پروژې ټیم به دا وخت پیدا کړي ترڅو SSD پروګرام په اړه مربوطه وزارتونو او ډونرانو ته پوهاوی ورکړې. لدې وروسته د پراخو مهارتونو د پرمختیا پروګرام به پیلیږي او په ټولو استخراجي پانګونو به تمرکز ولري. سره له دې چې د ښوونیزو ادارو د ضرورتونو ارزیابي په لوړه سویه شوې،بیا هم دغه ستراتیژي به د ښوونیزو ادارو سره همغږې شي تر څو د نوموړو ادارو په ضرورتونو په جزییاتو پوه شي(تر څو دقیق تخنیکي جزییات او د ضرورتونو لګښت معلوم کړی شي). د پروژې د ټیم له خوا د ټاکل شوي معیار او شرایطو په نظر کې نیولو سره به کارونو ته دلومړیتوب حق ورکول کیږې تر څو مربوطه خلکو ته مرسته په وخت سره ورسیږي.

## د پروژې موخې:

دا سند د Executive Summary - Afghanistan Resource Corridor Skills Strategy Development Final Report ده چی لیوالو کسانو ته د یو خدمت په توګه وړاندی کیږي. د اختلاف په صورت کې د دې سند انګلیسې متن ته غوره توب ورکول کیږي.

.

--د سرچینو سکتورد مهارتونو ستراتیژۍد عملي کولو او پرمختګ لپاره لومړی قدم اخستل او په دغه سکتور کې د مهارتونو د ضرورت په اساس دتقاضا او دعرضې برابروالی لپاره لارې چارې را پیژندل.

--د عرضې د پرمختګ لپاره د یو لومړنی دقیق تحلیل ترسره کول چی له مخې یې د افغانستان دولت او مرسته کونکي خپلې پانګونې او نوښتونه تنظیم کړي.

**تګلاره یا میتودولوژي**

**طریقه**

لاندینۍ طریقې نه باید کار واخستل شي تر څو پورتنی موخو ته ورسیږو:

**اول فعالیت: د مشخصو ضروري مهارتونو احتمالي تقاضا او عرضې ارزونه چې د افغانستان په استخراجي صنعت کې د راتلو نکو پانګونو له کبله پیداکیږي**

- د تخنیکي او مسلکي مهارتونو ارزیابي کول چې یو عصري استخراجي صنعت ورته په بیلا بیلو سکتورنو کې اړتیا لري.
- د اقتصاد د نورو برخو سره د استخراجي مهارتونو د اشتراک او اتصال ارزول او د استخراجي صنایعو څخه د باندې د هغوي لپاره د تقاضا کچه ارزول.
- د تعلیم او تریننګ لپاره د لومړنیو موسساتو (چې طمعه تری کیږي د دغه پانګونو لپاره اړین کدرونه تربیه کړي) د ارزونې په اساس، د دې مهارتونو او کسبونو اوسنی عرضه او راتلونکې تقاضا ارزول
- ارزیابې کول تر څو جوته شې چې کوم مهارتونه ته په کلیوالي او د معدن شاوخوا سیمو کې پرمختګ ورکول کېدای شی او دا هم معلومول چې کوم مهارتونه ښاري ادارو او ښوونیزې سطحې ته اړتیا لرې.

دا سند د Executive Summary - Afghanistan Resource Corridor Skills Strategy Development Final Report ده چې لیوالو کسانو ته د یو خدمت په توګه وړاندی کیږي. د اختلاف په صورت کې د دې سند انګلیسي متن ته غوره توب ورکول کیږي.

.

**دویم فعالیت: یو کاري پلان جوړول تر څو دا یقیني شي چې د مهارتونو عرضه او تقاضا د مارکیټ یا بازار جوړولو لپاره د یو میکانیزم له لارې په پوره توګه سره یو ځای کړی شي.**

- هغه مهارتونو، ابتکاري پروګرامونو او کړنلارو ته د لومړیتوب حق ورکول کوم چې عاجل په کار وي او که چېرې په راتلونکې ۱۸ میاشتو کې کار پیل شي، په کار باندې به تر ټولو ډیره اغیزه ولري.
- د معلوماتو په بهیر کې دهغه نیمګړتیاوو معلومول کوم چې دعینک،امو سیند او نورو پانګونو کې دمهارتونو عرضې او تقاضا ترمنځ دمؤثربرابروالي مخنیوی کوي.
- اداري موډلونو ته پراختیا ورکول تر څو نیمګړتیاوې په دوامداره او روانه توګه لیرې کړي او دا اطمینان تر لاسه شي چې: خصوصي سکتور په د موجودو مهارتونو د عرضی په هکله معلومات لرې او په TVET کې مهمې اداري او په عمومي توګه ټول تحصیلی سکتور په بشپړ ډول د سکتور په ضرورتونو او دعرضې کیفیت او کمیت د ستونزو پهکله خبر وي.

**دریم فعالیت: د مهارتي نیمګړتیاوو د رفع کولو او د وخت په تیریدو سره د سکتور د عرضې او تقاضا ترمنځ د توازن د ښه والي په مقصد، د افغانستان داسلامي جمهوري دولت اضافي نوښتونو او ډونرانو لپاره د شرایطو یو دقیق تحلیل ترسره شې .**

- د هغه مهارتونو معلومول چې اوس مهال هیڅ نه مهیا کیږې او یا اوسنې تدارکات د یو نه تر دوه کلونو پورې به په کافي اندازه نه وي.

دا سند د Executive Summary - Afghanistan Resource Corridor Skills Strategy Development Final Report ده چې لیوالو کسانو ته د یو خدمت په توګه وړاندی کیږي. د اختلاف په صورت کي د دي سند انګلیسي متن ته غوره توب ورکول کیږي.

.

- دهغه مهارتونو معلومول چې کمیت یې ډیر دې ولې کیفیت یې تیټ دی او چرته چې د نیمګرتیاوو رفع کول به یواځې په درسي نصاب کې د بدلون له لارې ممکن نه وې بلکه پانګونې ته به اړتیا وي( د مثال په ډول، په هغه برخو کې چې دویمه دنده یی کیفیت ته پام نه کوي).
- اداري جوړښتونه وړاندې کول د کومو په وسیله به چې د افغانستان د دولت او ډونران نوښتونه (په لومړۍ کې په خاصه توګه د کان ویستلو صنعت په داخل کې او همدارنګه مهمو پروګرامونو سره یې په بهر کې اړیکه ورکول) یو ځای کار وکړې تر څونوموړې نیمګړتیاووته د حل لاره پیدا شي.
- د دې اداري جوړښتونو مصارف معلومول، د بېلګې په ډول (الف) موجوده مهارتي پروګرامونو ته پراختیا ورکول (ب) د جنین MoM فزیکي ساحه پراخول یا بیا تازه کول( د بیلګې په ډول زوړ AGS ) او (ج) د یو مکملې نوې اداري جوړول.

دا سند د Executive Summary - Afghanistan Resource Corridor Skills Strategy Development Final Report ده چی لیوالو کسانو ته د یو خدمت په توګه وړاندی کیږي. د اختلاف په صورت کې د دې سند انګلیسې متن ته غوره توب ورکول کیږي.

.